# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۲۴مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۱۴مه | ٦٤٥مه ګڼه


# په ارغنداب کې بوړنوونکې پېښه؛

## هوايي برید د ښځو او ماشومانو په ګډون د یوې کورنۍ د یوولسو غړو ژوند واخیست



۳

### پر ملکیانو بریدونه، توجیه او پایلې

۲ مخ

### افغان سوله او د ښکېلو لورو تر منځ شته فاصلې

۲ مخ

### چین د افغان جلغوزیو لپاره ستر او غوره بازار دی

۳ مخ

## امریکايي څېړونکي: طالبان له امریکا سره له شوي تړون وروسته لاهم له القاعده شبکې سره پراخې اړیکې لري

طالبان له القاعده شبکې سره نه یوازې فکري، بلکې د خپلوۍ اړیکې هم لري. د افغانستان د مسایلو امریکايي څېړونکي مایکل روبین په تازه څرګندونو کې ویلي، که امریکا دا تمه لري چې طالبان به له القاعده شبکې سره اړیکې پرې کړي، نو دا ناممکن کار دی.

د ده په خبره، طالبان نه یوازې دا چې د القاعده شبکې له غړو سره فکري اړیکې لري، بلکې ترمنځ یې د خپلوۍ اړیکې هم شته دي. د ده په خبره، طالبان هم له القاعده سره د اړیکو له منځه وړلو په برخه کې له نړیوالې ټولنې او امریکا سره رېښتیني نه دي او همدا اوس د دوی ترمنځ همکاري دوام لري. هغه پر امریکا غږ کړی چې په افغانستان کې د ترهګرو ډلو د له منځه وړلو لپاره رېښتیني اقدام وکړي او په تشو ژمنو دې نړیوالو ته ګواښونه نه جوړوي.

امریکايي څېړونکي داسې مهال د طالبانو او القاعده ترمنځ د اړیکو خبره کوي، چې تر دې وړاندې ملګرو ملتونو هم خبرداری ورکړی و چې طالبان له امریکا سره له شوي تړون وروسته هم له القاعده شبکې سره پراخې اړیکې لري. دغه راز په دې وروستیو کې امریکايي رسنیو هم ویل چې په کندهار کې د امریکا په وروستي هوايي برید کې پر طالبانو سربېره، د القاعده شبکې مهم غړي هم وژل شوي دي.

## که طالبان تاوتریخوالی کم نه کړي، پر وړاندې به یې بریدونه ډېر کړو



۵ مخ

# ولایت


۴ مخ

## سمنګان

د سمنګان په مرکز او شپږو ولسوالیو کې د دیني مدرسو او خصوصي ښوونځیو په ګډون، ۲۹۹ تعلیمي ادارې فعالې دي. په دغو ښوونیزو ادارو کې ۱۱۰ زره زده کوونکي پر زده کړو بوخت دي، چې ۳۵ سلنه یې نجونې دي.



## کرنې ریاست: روان کال د تخار د شاتو حاصلات ۸۰ ټنو ته رسېدلي دي



د تخار ولایت د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکي وایي، چې په دغه ولایت کې سږکال د شاتو حاصلات ۸۰ ټنو ته رسېدلي دي.

چارواکي دغه راز زیاتوي، چې د شاتو مچیو روزونکو د اتو ټولنو په اړانه کې د شاتو مچیو ۴۰۰ فارمونه چې، د شاتو نهه زره صندوقونه پکې دي، فعالیت کوي.

د چارواکو په خبره، په دې وروستیو کې د شاتو مچیو د صندوقونو په ډله کې دوه زره نوي صندوقونه هم زیات شوي دي. د تخار د کرنې ریاست مسوولین وایي چې په دغه ولایت کې د شاتو د پروسس یوه فابریکه هم فعالیت لري، چې د ورځې د۵۰۰ ټنو شاتو د پروسس وړتیا لري.

چارواکي دغه راز وایي چې راتلونکی کال به په تخار کې د مچیو کاروبار نور هم وغوړېږي چې په دې سره به زرګونو کسانو ته کاري فرصتونه هم رامنځته شي.

## حنفی: کمیسیون های ولسی جرگه خواهان رد فرمان تعدیل قانون انتخابات شده اند





ولسی جرگه نزدیک به دو سال بعد، فرمان تقنینی تعدیل قانون انتخابات را در حالی شامل آجندا نموده که تمامی کمیسیون های دایمی جرگه، خواهان رد این فرمان می باشند.

رئیس جمهور با صدور فرمانی تقنینی، قانون انتخابات را درماه حوت سال ۱۳۹۷ تعدیل کرد. کمیشنران کنونی کمیسیون های انتخاباتی (کمیسیون مستقل انتخابات و کمیسیون شکایت های انتخاباتی) نیز بر اساس همین فرمان، از سوی نامزدان انتخابات ریاست جمهوری انتخاب شده اند.

بر اساس ماده ۷۹ قانون اساسی، باید ولسی جرگه بعد از رخصتی زمستانی همان سال، در اولین نشست خود در مورد این فرمان تصمیم اتخاذ می کرد؛ اما کمیته رؤسای ولسی جرگه، روز سه شنبه هفته گذشته (۱۸ قوس ۱۳۹۹) تصمیم اتخاذ کرده است که این فرمان را روز چهارشنبه (٢٦ قوس) شامل اجندا سازد. قاضی نذیر احمد حنفی رئیس کمیسیون امور تقنین ولسی جرگه گفت که در نزدیک به دو سال اخیر، ولسی جرگه به دلیل اینکه حکومت طرح تعدیل قانون انتخابات را تهیه و برای تصویب به جرگه بفرستد، فرمان یاد شده را شامل اجندا نکرده بود. به گفتهٔ او ولسی جرگه، اکنون در حالی این فرمان را شامل اجندا نموده که چهارده کمیسیون دایمی این جرگه، خواهان رد این فرمان شده اند.

او افزود که روی طرح تعدیل قانون انتخابات نیز کار در جریان است و در صورتی که مجلس این فرمان را رد و یا تائید کند، با تصویب طرح تعدیل قانون انتخابات، فرمان تقنینی رئیس جمهور که در سال ۱۳۹۷ صادر شده است، رد می شود.

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

### پر ملکیانو بریدونه، توجیه او پایلې

ورمه شپه د کندهار په ارغنداب کې په یوه هوایي برید کې یوولس ملکي وګړي شهیدان شوي دي. په دوی کې لویه برخه ښځې او ماشومان دي. معلومه نه ده چې برید بهرنیو او که افغان ځواکونو کړی، خو حکومتي اداري یې په اړه متفاوت دریځونه لري. ملي امنیت ادعا کړې چې په کندهار کې یې طالبان وژلي، خو دفاع وزارت بیا وایي چې په دې اړه څېړنې کوي. هاخوا د کندهار امنیه قوماندانی بیا وایي چې هېڅ هوایي برید نه دی شوی، بلکې د طالبانو یو موټربم هدف ته له رسېدو مخکې انفجار کړی او دا مرګ‌ژوبله یې اړولې ده. سیمه‌ییز خلک بیا وایي چې برید د شپې په لسو بجو الوتکو په داسې حال کې د ملکي وګړو پر کورونو کړی، چې په سیمه کې هېڅ جګړه هم نه وه.

څو ورځې وړاندې هم په کندهار کې په هوایي برید کې ملکي وګړو ته د مرګ‌ژوبلې په تړاو خبرونه خپاره شول. له دې سره د براون پوهنتون یوه څېړنه وایي چې د ټرمپ په واکمنۍ کې د بهرنیو او حکومتي ځواکونو په هوایي بریدونو کې د ملکي وګړو وژنه (۳۳۰) سلنه زیاته شوې ده. حکومتي ویندویان تل د ملکي وګړو مرګ‌ژوبله ردوي. دوی د ملکي مرګ‌ژوبلې په اړه ډېری وخت د سیمې د اوسېدونکو او عیني شاهدانو خبرې هم ردوي چې تازه یې همدا کار د ارغنداب په اړه هم کړی دی. که خبره بېخي ثابته هم شي چې ملکیان وژل شوي او په هوایي برید کې وژل شوي، نو بیا طالبان پړه ګڼي چې سیمه یې نا امنه کړې ده او یا یې هم د خلکو په کورونو کې سنګرونه نیولي دي. د ملکي وګړو وژنه یو ښکاره او نه بښل کېدونکی جنایت دی. دا وحشت په هېڅ ډول نه توجیه کېږي او نه یې هم مسوولین له پړې ځان ژغورلی شي. له بده مرغه په دې وروستیو کې یو ځل بیا پر هوایي بریدونو تکیه کېږي چې په طبیعي ډول ملکي وګړو ته مرګ‌ژوبله اړوي. په تېرو ۱۹ کلونو جګړو کې هم په هوایي بریدونو کې بیا بیا ملکي وګړو ته مرګ‌ژوبله اوښتې چې دې چارې نه یوازې له امنیت سره مرسته نه ده کړې، بلکې د دولت او خلکو ترمنځ یې واټن لا زیات کړی او له کبله یې وسله‌وال طالبان لا زیات پیاوړي شوي دي. له همدې امله د هوایي بریدونو تګلاره او بیا هغه هم په داسې حال کې چې په هغه سیمه کې جګړه نه وي، یوه ناکامه، ناکاره او ناسمه تګلاره ده چې نه یوازې کومه مثبته ګټه نه لري، بلکې د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې سبب کېږي.

د جګړې ښکېل لوري باید درک کړي چې لومړی خو یو مخ روانه جګړه سمه نه ده او چې څومره ژر ممکنه وي، باید دا جګړه ختمه شي، خو په دې جګړه کې بیا د ملکي وګړو وژنه نه بښل کېدونکی جنایت دی. که څوک رښتیا هم د ولس خبره کوي، د ولس خوشالي او حق غواړي او ځان د ولس د ارادې ممثل ګڼي، نو نه یوازې باید ملکي وګړو ته مرګ‌ژوبله وانه ړوي، بلکې د هغوی په خوندیتوب کې باید هڅې وکړي.

# افغان سوله او د ښکېلو لورو تر منځ شته فاصلې

لیکنه: نورمدین بلخېل

دا دي هره ورځ په لسګونو امریکایي سرتیري له افغان خاورې وځي، داسې ویل کېږي چې د قطر د موافقې پر اساس چې د امریکا او طالبانو تر منځ لاسلیک شوې، د راتلونکو څو میاشتو په لړ کې به ټول امریکایي او نړیوال سرتیري له افغان خاورې بهر شي، خو په دې شرط چې طالبان له هغو ډلو سره چې امریکا ته ګواښ پېښوي، اړیکې پرې او هم له افغان خاورې څخه د دوی پر وړاندې د هر ډول حملې مخه ونیسي.

افغان دولت چې د قطر له موافقې څخه ناراضه دی، تر ډېره حده هڅه کوي چې سوله په خپله ګټه را وڅرخوي او یوازې دې ته منتظر دی چې طالبان به څنګه خپل جنګیالي د مظلومو جنګیالیو په څېر دوی ته تسلیم کړي او په دې توګه به طالبان له پښو وغورځوي.

طالبان فکر کوي چې د حکومت پرله پسې د اوربند غوښتنه هم د طالبانو د ضعیفولو لپاره یو پلان دی، کوم چې طالبان ورته تیار نه دي، ځکه چې په تېر کې طالبانو که د ښه نیت له مخې په اخترونو کې اوربندونه کړي، ځینې حکومت پلوه کسانو رسنیو ته ویل چې دا اوربند په اصل کې د پاکستان اوربند دی او طالبان په کې خاص دخالت نه لري، چې البته دې او دې ته ورته ادبیاتو طالبانو ته دا وښودل چې له افغان حکومت سره کوم ډول چلند غوره کړي، طالبان پر افغان حکومت او په خاص ډول پر اشرف غني او ټیم یې باور نه لري، دوی فکر کوي چې اشرف غني غواړي طالبان په داسې ډول په افغان حکومت کې مدغم کړي، لکه د تاجکستان اسلامي غورځنګ چې دوې نیمې لسیزې مخکې د تاجکستان په نظام کې ورګډ او وروسته بیخي ورک شو، یا لکه د سریلانکا تامل پړانګان چې د روغې او سولې له لارې د سریلانکا له دولت سره یو ځای شول چې دا په واقعیت کې سوله نه، بلکې د تاملیانو د غولولو لپاره یو پلان و، طالبان به خیال کوي چې افغان ولسمشر د یوه داسې فرصت په لټه کې دی.

طالبان پر افغان حکومت د صداقت باور نه لري، همدا اوس افغان حکومت طالبانو ته وړاندیز وکړ چې باید د سولې مذاکراتو وروستۍ مرحلې په افغان خاوره کې د ننه تر سره شي او خبرې باید د افغانانو په مشرۍ او نظارت مخ ته یووړل شي، خو معلومه خبره ده چې طالبان به دا وړاندیز ونه مني، ځکه چې طالب په هیڅ رقم اوسنی افغان دولت د افغانانو استازی نه بولي، طالبان اشرف غني یو دروغجن، فریبکار او یو ډېر بې وسه، ضعیف او د پردیو اجیر بولي او ډېری وخت د غني خبرو او وړاندیزونو ته غبرګون هم نه ښیي؛ دا چې طالبان غني ته په لوړه سترګه نه ګوري، نو په مقابل کې حکومت هم د طالبانو هغه غوښتنې چې دوی یې د جمهوریت او اساسي قانون خلاف بولي، نه مني.

طالبان پر افغان دولت د فشار لپاره له جنګه کار اخلي، طالبان فکر کوي که چېرې دوی اوربند وکړي، نو اشرف غني به هېڅکله له خپلې ارادې وا نه وړي او بیا به له ورځه اوبه تېرې وي، نو باید دوی جګړه وکړي، ځکه دوی انګیري چې امریکایان د جګړې له لارې سولې ته حاضر شول، نو افغان حکومت به هم ډېر ژر زموږ غوښتنې ومني.

اوس د بین الافغاني مذاکراتو پر اجنډا هم هوکړه وشوه او افغان دولت او طالبانو دواړو تایید کړه، داسې ښکارېده چې افغان دولت به هیڅکله د دوحې تړون د راتلونکو مذاکراتو او د حنفي فقه د پرېکړو د اساس په توګه ونه مني، خو اوس دغه ده هر څه چې طالبانو ویل ومنل شول او داسې ښکاري چې په راتلونکي نظام کې به قلف او کیلي د طالبانو په لاس کې وي، طالبانو د اوو زرو نورو طالب بندیانو د خلاصون خبره هم کړې کوم چې د افغان دولت د ملي امنیت شورا ویاند رحمت الله اندړ دا خبره د سولې په برنامه کې یو بې ګټې کار بللی دی، خو طالبان غواړي چې دا کار هم تر سره کړي کوم چې دغه احتمال به اشرف غني او د هغه ټیم ته د خطر زنګ وي، اشرف غني ډېر مقاومت کوي، زیات وخت د سرو کرښو پر ټاکلو تېروي، خو وروسته یې بیا سره کرښه په دوربین کې هم نه ښکاري، داسې معلومېږي چې د غني په سر باندې هم کومه بلا شته چې سرې کرښې یې په شنو بدلوي.

اشرف غني ډېره هیله د امریکا نوي ولسمشر جوبایډن ته وه چې حتماً به د کامیابۍ په صورت کې د ټرمپ په نسبت ۱۸۰ درجې تغیر وکړي، خو دغه ده اوس بایډن جمهور رییس اعلان شو، مګر بایډن تر اوسه د افغان سولې په اړه نوي څرګندونې نه دي کړي او د دې احتمال زیات دی چې بایډن به د مذاکراتو په لړ کې د ټرمپ دریځ ونیسي چې دا به د اشرف غني لپاره بد حال وي، اشرف غني او ملګرو یې له مخکې مخکې د بایډن د تحریک په خاطر د طالبانو او امریکایانو د تړون مواد بې ارزښته یاد کړي، کوم چې تر اوسه بایډن پرې غوږ هم نه دی ګرولی.

د اشرف غني مقاومت ځکه له ماتې سره مخ کېږي چې په خپله حکومت کې هم خلک په ځانګړې ډول ډاکټر عبدالله عبدالله د اشرف غني له زیاتو مواردو سره جوړ نه دی، کله کله داسې هم پېښېږي چې کله غني په یوه خبره شله او کلک شي، نو په قطر کې د افغان دولت په مذاکراتي هیئت کې د ښاغلي عبدالله کسان وایي که چېرته غني د سولې د خبرو په مخکې خنډ شي، نو دوی به په خپل تفکر کار مخ ته بوځي، چې بیا به اشرف غني ته هیڅ ځای پاتې نه وي.

طالبان په سوله پسې را وتي دي، خو افغان دولت فکر کوي چې د طالبانو د خولې سوله د افغانانو په زیان ده، ځکه طالبان هماغه طالبان دي کوم چې له نن نه شل کاله مخکې په افغانستان حاکمان وو، دوی وایي، د طالبانو په وخت کې افغانستان یو ناکام هیواد و، هیڅ یې نه درلودل، وطن په یوه تیاره حالت کې و، خلک بېسواده وو، وګړو په نیستۍ او ذلت کې ژوند کاوه، طالبانو پرمختګ او ابادۍ ته ارزښت نه ورکاوه، د نورې نړۍ خلکو ور څخه کرکه لرله، د سیاسي ګوندونو فعالیت په صفر کې ضرب و، افغان دولت سوچ کوي چې که چېرې طالبان یو ځل بیا په دې خاوره واکمن کېږي، نو هر څه به په اوبو لاهو کړي، د بیان، ښځو او ځوانانو ازادۍ او نور ټولنیز او سیاسي ارزښتونه به له خاورو سره برابر کړي، ښځې به په کورونو کې زنداني کړي، په رسنیو او سیاسي احزابو به بندیزونه ولګوي، افغان دولت فکر کوي چې طالبان د دین له ادرسه هر څه ته د خپل ځان له نظره ګوري، د خلکو په لباسونو، ویښتانو، شخصي کاروبار، موسیقۍ او نورو مواردو کې د ولس ذهنیت ته په احترام قایل نه دي، عادي خبرې جدي نیسي، خلکو ته یوازې د دین او مذهب له نظره هر څه وړاندې کوي، چې دا ټول هر څه افغان ولس نه غواړي.

طالبان د حکومت اندېښنو ته واضح ځواب نه وایي، حکومت هم په دې هیله غوړونه تیار نیولي دي چې طالبان د تېرو شلو کلونو لاسته راوړنو په اړه څه وایي، ځینې وخت طالبان فقط دومره وایي چې په نورو اسلامي هیوادونو کې چې کوم حقونه انسانانو ته ورکول کېږي، موږ هم ورته حاضر یو چې ور یې کړو، خو مګر تر اوسه طالبان د بشر حقوقو په اړه قاطع خبره نه کوي، ځکه داسې معلومېږي چې طالبان په افغانستان کې د غرب تر سیورې لاندې تطبیق شوي انساني حقونه د معاصر الحاد یوه برخه ګڼي.

د سولې په مورد باید دومره زیاته کړو چې افغان حکومت او طالبان دواړه د سولې لپاره ځان ته چوکاټ او محتوا لري، چې دواړه لوري له یو او بل څخه زیات فاصله لري کوم چې د اختلاف اصلي محورونه دي؛ خو هغه څه چې افغانان غواړي هغه دا چې ولس سوله غواړي، باید افغان دولت په دې برخه ستر نرمښت وښیي، له خپلو ځینو غوښتنو تېر شي، هر نرمښت او تمایل د سره کرښه نه ټاکي چې سبا ته یې سره کرښه په شنه اوښتې وي، د جنګ ادبیات باید ونه کاروي، ځکه په دې سره فاصلې پیدا کېږي او د سولې بهیر ته زیان اړوي، طالبان باید په خپله هر غوښتنه ټینګ ونه درېږي، دوی باید له نورو افغانانو سره یو ځای د خپل وطن د ابادۍ لپاره کار وکړي، طالبان باید د ښځو د تعلیم، کاروبار، په ټولنه او سیاست کې د هغوی مقام او برخه په نظر کې وساتي، رسنۍ باید د اصولو په رڼا کې ازاد او خلاص لاس ولري، له رسنیو څخه کنځل، تخریب، د ملي ترمینالوژۍ خلاف هر ډول پردي اصطلاحي او غیرفرهنګي توکي باید وایستل شي، طالبان باید د سني او شیعه تر منځ د لا وحدت او یووالي سبب شي، د مختلفو ملیتونو تر منځ توازن چې په دا تېرو شلو کلونو کې حکومت ورته پاملرنه نه ده کړې، مراعت کړي، په کابل کې د یو څو تنو یا د یوې کوچنۍ ډلې واکمنې او بدمعاشي باید ختمه شي، څو خلک په ارام زړه ساه واخلي، په دې هر څوک پوهېږي چې د اسلامي نظام لپاره څلورنیمې لسیزې جګړه شوې، په دې خاوره کې ټول خلک اسلامي نظام غواړي، فقط یو څو د ګوتو په شمار پردیپالي دي چې د سولې په مخکې خنډ دي چې د جنګ په ختمېدو او د سولې په راتلو به د دوی تغر هم ټول شي.

# د اقلیمي بدلون په اړه خبرداری؛

## ګوتریش: که نړیوال د اقلیمي بدلون لپاره تګلاره بدله نه کړي، نړۍ به له جدي ګواښ سره مخ شي

د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوتریش د نړۍ له ټولو هېوادونو وغوښتل چې د اقلیم بیړنی حالت اعلان کړي.

ګوتریش ټینګار کړی چې بیړنی حالت باید تر هغو وساتل شي، چې د کاربن ګازو په کچه کې تعادل رامنځته شي. د هغه په خبره، چې ګلخانه‌یي یا شنه کوریز ګازونه باید له دې وروسته د ځمکې اتموسفیر ته ډېر را ونه لیږل شي.

نوموړي دا څرګندونې د اقلیم په اړه د پاریس تړون د پنځمې کلیزې په مناسبت جوړ شوي کنفرانس ته کړې دي. پنځه کاله مخکې د نړۍ هېوادونو د دغه تړون له مخې ژمنه وکړه چې د ځمکې تودوخه به د سانتي ګراد ۱،۵ درجو پورې محدوده ساتي.

خو د ملګرو ملتونو عمومي منشي ویلي چې دا ژمنې په دې برخه کې موخې ته د رسېدو لپاره کافي نه دي او په خبره یې، یو شمېر هېوادونو دا هڅې له پامه غورځولې دي.

ګوتریش خبرداری ورکړی، که نړیواله ټولنه دا لاره بدله نه کړي، د ځمکې کره به په خطرناک ډول د تودېدو له ګواښ سره مخامخ شي.

د ګوتریش په خبره، د نړۍ ۳۸ هېوادونو د اقلیم بیړنی حالت اعلان کړی او نوموړي غوښتنه کړې چې نور هېوادونه هم باید دا لاره خپله کړي. اروپایي ټولنې د ۲۰۱۹ ز کال په نومبر کې دا لاره تعقیب کړه او ټولو ۲۷ هېوادونو یې بیړنی حالت اعلان کړ.

د ملګرو ملتونو عمومي منشي وویل چې په دې برخه کې ټولو هڅو تر اوسه یوازې سمبولیکه بڼه درلودلې ده.

د اقلیم په اړه یاد کنفرانس د ملګرو ملتونو، بریتانیا او فرانسې په ګډ کوربه‌توب او د چیلي او ایټالیا په ګډون ترسره شو. په دغه کنفرانس کې د نړۍ ډېرو مشرانو برخه اخیستې وه، خو یوازې هغو پکې خبرې وکړې چې د اقلیم په چارو کې یې تګلارې جوړې کړې او لاسته راوړنې لري.

د اقلیم په اړه د پاریس تړون په ۲۰۱۵ ز کال کې لاسلیک شو، خو امریکا هغه مهال له دې تړونه ووتله، چې کله ولسمشر ټرمپ واک ته ورسېد، خو تازه د امریکا نوي منتخب ولسمشر جوبایډن ژمنه کړې چې د کار په لومړۍ ورځ به بېرته امریکا په دغه تړون کې ښکېله کړي.

# چین د افغان جلغوزیو لپاره ستر او غوره بازار دی



لیکنه: ډېوه
د چین میډیا ګروپ خبریاله



یو کمربند او یوه لاره؛ په چین کې د افغانستان مشهور تولیدات
جلغوزي په چین کې ستر بازار او مینه وال لري. د چین په شمال- ختیځ کې دې ته ورته یو بل ډول جلغوزي هم شته دي، خو پوستکی یې سخت دی او د خوړلو په وخت کې په اسانه نه ترې لرې کېږي. د چیني مشتریانو په نظر د افغانستان جلغوزیو پوټکی نازک دی او په اسانه توګه ترې لرې کېدلی شي او مغز یې هم لوی دی او خوند یې هم ښه دی. پردې سربېره، دغه جلغوزي له ونو څخه له اخیستلو وروسته تر ډاډه کولو، بیریاني کولو پورې یوازې مالګین خوند پکې لږ څه زیاتیږي چې هیڅ کیمیاوي مواد پکې نشته. نو دغه خوندور او د روغتیا له اړخه ډاډمن جلغوزي د چیني مشتریانو ډېر د خوښې وړ دي.
په چین کې د افغاني جلغوزیو یوه پلرونکې وایي: «که څه هم د افغانستان جلغوزي ډېر ښه کیفیت لري، خو مخکې چین ته په مستقیمه توګه نه شوای صادرېدای. پخوا د افغانستان جلغوزي د سوداګریز محدودیت له امله یوازې په ټیټې بیې لومړی پاکستان ته صادرېدل او د پاکستان په نوم بیا په چین کې پلورل کېدل.»
له نیکمرغه یو کمربند او یوې لارې چین ته د افغانستان د جلغوزیو د صادراتو لپاره یوه دروازه خلاصه کړې ده. د ۲۰۱۸ کال په جون کې چین ته د افغانستان د جلغوزیو د صادرولو تړون لاسلیک شو او د همدې کال په نومبر میاشت کې د الوتکو ځانګړو پروازونو په وسیله له افغانستان څخه چین ته د جلغوزیو د صادرولو پروژه پیل شوه. له هغه وخت وروسته د چین د پسرلني اختر مخکې په څلورو میاشتو کې په ٦۴ مستقیمو پروازونو کې له افغانستان څخه چین ته ورسیدل چې څه دپاسه زر ټنه جلغوزي له افغانستان څخه چین ته صادر شوي او عمومي ارزښت یې څه دپاسه پنځلسو میلیونو ډالرو ته رسیده. په ۲۰۱۹ کال کې دې سوداګرۍ په عادي ډول دوام درلود.
په دې هکله چیني سوداګر هم ډېر خوشحاله او خوښ دي. د چین یو شرکت چې له څه دپاسه شلو کلونو راهیسې د جلغوزیو تجارت کړی او کوي یې، د روان کال له اکتوبر میاشتې څخه د افغانستان د جلغوزیو په تجارت پیل کړی او اوس یې کار ډېر مصروف او ښه روان دی. د دغه شرکت خاوند شوی جیان جونګ په دې اړه ډېر خوښ او ښه احساسات لري او وایي: «زموږ په فابریکه کې ټول د جلغوزیو اصلي مواد له افغانستان څخه راغلي دي. پخوا دغه جلغوزي په عمده توګه د پاکستان د سوداګرو په لاس چین ته صادرېدل، خو کله چې دوه کاله مخکې د یو کمربند او یوې لارې پلان په رڼا کې له افغانستان څخه چین ته د الوتکو په وسیله د جلغوزیو د لېږدولو تړون لاسلیک شو، له افغانستان څخه زموږ فابریکو ته د جلغوزیو د رسېدو لپاره یوازې دوو یا دریو ورځو ته اړتیا شته. دا ډېر مهم پرمختګ دی چې د لېږدولو وخت ډېر کم شوی دی او د جلغوزیو ښه کیفیت تامینولی شي.»
ویلی شو چې په چین کې د هرې یوې دانې افغان جلغوزیو تر شا د ډېرو کسانو هیلې او د دواړو هېوادونو پاملرنې شته دي. په چین کې هم د دولت او خلکو په کچه د جلغوزیو تجارت ته په درنه سترګه کتل کېږي. د ۲۰۱۹ کال د چین په دویم نړیوال وارداتي نندارتون کې چیني تصدۍ د جلغوزیو د اخیستلو لپاره څه دپاسه پنځه څلویښت میلیونو ډالرو په اندازه قرارداد لاسلیک کړ. په همدې کال کې د چین اړوندې تصدۍ له افغانستان سره یو بل تړون لاسلیک کړ چې په راتلونکو پنځو کلونو کې به له افغانستان څخه څه دپاسه ٦٢ زرو ټنو په اندازه جلغوزي وارد کړي. د ۲۰۲۰ کال په سپټمبر میاشت کې د جیانګ سو ولایت د های أن په نامه د ګمرکي بهیر داخلېدو او وتلو مرکز د افغانستان له اړوند شرکت سره هغه همکاریز تړون لاسلیک کړی دی، چې له افغانستان څخه درې زره ټنه جلغوزي به وارد کړي. له دې څخه څرګندیږي چې د چین مشتریان د جلغوزیو لېوالتیا او تقاضا لري او ستر بازار پاتې دی.
د چین د جه جیانګ ولایت په فو یانګ ښار کې د افغانستان د جلغوزیو یو لوی شرکت شته چې خاوند یې لو جیان جونګ یو پنځه اویا کلن سړی دی. هغه له پنځه ویشتو کلونو مخکې د چین په شینجیانګ کې په لومړي ځل د افغانستان جلغوزي لیدلي او خوړلي یې دي. په هغه وخت کې د پاکستان سوداګر د شینجیانګ کاشغر ته دغه جلغوزي راوړي او پلورلي وو. نو هغه پنځه ویشت کلونه مخکې هیله درلوده چې یوه ورځ د افغانستان جلغوزي په مستقیمه توګه چین ته صادر شي او دغه هیله په ۲۰۱۸ کال کې رښتینې شوه. هغه په خوشحالۍ سره وویل: «کله چې ما واورېدل چې له افغانستان څخه په مستقیمه توګه چین ته د جلغوزیو د صادراتو په هکله تړون لاسلیک شوی، زه ډېر خوشحاله شوم. پخوا هغه پروسه چې د افغانستان جلغوزي د پاکستان او د شینجیانګ د اورومچي له لارې موږ ته رسیدل، نوره ختمه شوه. دا ډېره مهمه ده چې د جلغوزیو د لېږد وخت ډېر لنډ شوی او په لاره کې د دغو جلغوزیو حالت او ښه خوند په خپل حال ساتل کېږي. ویلی شو چې د لېږد رالېږد تر ټولو سخته ستونزه اوس حل شوې ده.»
په څه دپاسه شلو کلونو کې ښاغلي لو جیان جونګ یوازې د افغانستان د جلغوزیو سوداګرۍ ته ځانګړې پاملرنه کړې او کوي یې، ځکه چې هغه ورسره د زړه له کومې مینه لري. نو هغه هره ورځ په فابریکه کې ګرځي او د جلغوزیو د چمتو کېدو بهیر ټول پړاویز کارونه په خپله ګوري او څاري. د ده په نظر، د افغانستان جلغوزي ډېر خوندور دي او دا هرومرو په ښه توګه تامینوي چې بازار ته پاک، سالم او خوندور جلغوزي برابر او وړاندې کړي څو چینایي مشتریان د افغانستان جلغوزي خوښ کړي او ترې خوند واخلي.
په څه دپاسه شلو کلونو کې مو د جلغوزیو د کیفیت تامینولو په برخه کې ډېر جدي کارونه تر سره کړي دي. هغه افغان سوداګران چې له ما سره همکارۍ کوي، ټول په دې ښه پوهیږي چې زه یوازې باکیفیته جلغوزي غواړم. وروسته موږ په چین کې د جلغوزیو د چمتو کېدو په بهیر کې د جلغوزیو رنګ، خوند او ځیرې ټولو ته پاملرنه کوو.
په چین کې د جلغوزیو پروسس او بسته بندۍ په شرکتونو کې د چمتو کېدو پروسه څو پړاوونه لري: جلغوزي لومړی د ماشینونو په وسیله مینځل کېږي او پخېږي، د جلغوزیو پخېدو له پروسې وروسته د ماشین په وسیله سوځېدلي جلغوزي جلا کېږي او غورځول کېږي او وروسته کارګران په لاسونو باندې جلغوزي د کیفیت له مخې سره جلا کوي. دغه ډول جلغوزي اوس د چین د وچو میوو په بازارونو کې ډېر د هرکلي وړ خوراک دی.
اوسمهال د الوتکو په وسیله په مستقیمه توګه له افغانستان څخه چین ته د جلغوزیو د صادراتو کار په دې وروستیو دوو کلونو کې شروع شوی. د دواړو هېوادونو د جلغوزیو سوداګرو تر منځ تګ راتګ لا د پیاوړتیا په حال کې دی، په دې برخه کې چیني او افغان سوداګر دواړه ډېرې هلې ځلې کوي چې لا زیات جلغوزي چین ته صادر شي.
د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني مخکې څرګنده کړې چې د الوتکې له لارې چین ته د افغانستان جلغوزیو لېږدول ستر اهمیت لري او د یو کمربند او یوې لارې تر پلان لاندې د دواړو هېوادونو تر منځ د تګ راتګ او نړیوال بازار ته د افغانستان د تولیداتو د صادراتو لپاره هم ګټې لري. اوسمهال چین ته د الوتکو په وسیله د افغانستان د تولیداتو د لېږدولو کارونه لا هم د پیل په پړاو کې دي، که لا زیات چیني او افغان تصدۍ په دې تجارتي تګ راتګ کې ګډون وکړي، نو د جلغوزیو په شان به د افغانستان لا زیات ډول وچې او تازه مېوې، لاسي صنایع او کاني مواد چین ته د صادرېدلو ښه فرصت ولري.

# په ارغنداب کې بوړنوونکې پېښه؛

## هوايي برید د ښځو او ماشومانو په ګډون د یوې کورنۍ د یوولسو غړو ژوند واخیست




په هېواد کې د جګړو له تودېدو سره همهاله ملکي مرګ ژوبله هم ډېره شوې ده. تازه په کندهار کې د هوایي بریدونو له امله د یوې کورنۍ یوولس غړي وژل شوي، چې ښځې او ماشومان هم پکې دي. د کندهار په ارغنداب کې له څو ورځو راهیسې خونړۍ جګړه روانه ده چې له امله یې لسګونه ملکي وګړي د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوي دي.
تازه د افغان حکومت له لوري په شوو هوايي بریدونو کې ملکي تلفاتو ګڼ غبرګونونه پارولي دي.
د کندهار په ارغنداب او څو نورو ولسوالیو کې له څو ورځو راهیسې خونړۍ جګړې روانې دي. سره له دې چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د شوې هوکړې له مخې، باید طالبان تاوتریخوالی کم کړي او پر افغان ځواکونو تهاجمي بریدونه ونه کړي، خو تازه دغې ډلې په ګڼو ولسوالیو کې پر افغان پوځ بریدونه کړي چې له امله یې نه یوازې افغان سرتېرو، بلکې ملکي وګړو ته هم مرګ ژوبله اوښتې ده.
بلخوا افغان حکومت چې ځان په دفاعي حالت کې بولي، پر وسله والو طالبانو هوایي بریدونه کوي چې له امله یې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوړي.
په وروستیو ورځو کې د هلمند په نادعلي، د کندهار په ارغنداب او ځینو نورو ولسوالیو کې افغان او بهرنیو هوایي ځواکونو بریدونه کړي چې له امله یې د طالبانو ترڅنګ ملکي وګړو ته هم درانه تلفات اوښتي دي. تر ټولو خونړۍ او بوړنوونکې پېښه یې وړمه شپه د کندهار په ارغنداب کې په یوه هوایي برید کې د ملکي وګړو وژل وو. د کندهار په ارغنداب کې ځایي خلک وایي چې وړمه شپه لس نیمې بجې شاوخوا د دوی پر کورونو ګڼ هوایي بریدونه شوي چې ملکي تلفات یې اړولي دي. په دې پېښه کې د یوې کورنۍ یوولس غړي وژل شوي چې ښځې او ماشومان هم پکې شامل دي. د وژل شوو نږدې خپلوان وایي چې په پېښه کې یې ورور له خپلو ماشومانو سره یوځای وژل شوی دی.
ګل محمد وایي، پر کور یې درې ګولۍ لګېدلي دي، د کورنۍ یوولس غړي یې وژل شوي چې ښځې او ماشومان پکې دي. د ده په خبره: ((لس نیمې بجې به وې، لومړی درب شو، چې ومې کتل ورور مې تر خاورو لاندې و، په دویم درب کې مې د ورور ماشومان ووژل شول او بیا تر سهاره همداسې ډزې او بریدونه وو، مړي تر خاورو لاندې وو، نو را ایستلی مو نه شوی، سهار مو په بېلچو مړي را وایستل)).
د ارغنداب ولسوالۍ بل اوسېدونکی عبدالصمد وایي چې په پېښه کې ټول ملکي وګړي وژل شوي دي. د ده په وینا، په سیمه کې هېڅ راز جګړه او نښته نه وه، ټول ویده وو او ناڅاپه الوتکو دوره وکړه چې له دویمې دورې سره یې بریدونه هم وکړل.
بلخوا د ملي امنیت ۰۳ قطعې مطبوعاتي مسوولینو بیا ویلي چې دوی د ارغنداب په بېلو سیمو کې د وسله والو طالبانو پټنځایونه او ځالې په نښه کړي او په هغه کې یې د اوو ځانمرګو بریدګرو په ګډون، ګڼو وسله والو طالبانو ته مرګ ژوبله اړولې ده. د دوی په خبره، په پېښه کې ملکي وګړي نه دي وژل شوي.
خو ملي دفاع وزارت بیا وایي چې دوی په پېښه کې د ملکي وګړو د وژل کېدو ادعاوې څېړي. د یاد وزارت په وینا، افغان ځواکونو د ارغنداب په بېلو سیمو کې د طالبانو پر ضد عملیات ترسره کړي، خو دا چې د ملکي مرګ ژوبلې ادعا کېږي، په اړه به یې معلومات وروسته له رسنیو سره شریک کړي. دوی د یوه ګډ پلاوي د ټاکل کېدو خبره هم کوي.
د افغان ولسمشر مرستیال ویاند دواخان مینه پال بیا وایي، طالبان د خلکو په کورونو کې پنا اخلي او له دې سیمو د سپر په څېر ګټه پورته کوي، نو ځکه دوی اړ دي چې د خپلو خلکو دفاع وکړي. هغه په دې پېښه کې طالبان پړه بولي. طالبانو هم په دې راپورونو غبرګون ښودلی او ویلي یې دي چې د افغان پوځ په هوایي بریدونو کې ملکي وګړي وژل شوي دي.

## د کتـاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### درېیمه برخه
**کشمیر**




که خپلواکي غواړي، نو مهرباني رایه اچونه پرې وکړه. موږ غواړو چې روان وضعیت ته بدلون ورکړو او بهتر یې کړو، خو په ورته وخت کې نه غواړو چې خپل ایمان له پوښتنې سره مخ کړو. دغه اوسنی وضعیت به مات نه شي، خو خراب به شي لکه په تېرو شپږو میاشتو کې چې څه پېښ شول. یو بل روان وضعیت او یو بل نسبتاً باثباته اړیکې رامنځته شوې وې. که په راتلونکې کې څه پېښېږي، وضعیت به لا خراب کړي. موږ د داسې یوې پېښې انتظار کوو چې د اورلمبې به نورې هم تازه کړي.
دولت: ښاغلیه، موږ د جګړې دغه لوبې لوبولی شو، خو څوک پوهېږي چې څه به پېښ شي. په ډیلي کې یو شمېر خلک په دې باور دي چې د پاکستان تجزیه حتمي ده، چې دا تر ډېره بې ارزښته خبره ده.
دوراني: راځئ د پاکستان د تجزیې پر عواقبو فکر وکړو. ته یې وو‌ایه وروره. ایا زموږ لپاره ښه ده او که بده.
دولت: اوه نه، موږ ته به ډېر ناوړه وي.
دوراني: پرېږدئ چې په دې اړه بحث وکړي او که پایله یې زموږ لپاره ښه نه وه او که چېرته زموږ لپاره ښه نه تمامېږي نو...
دولت: دا دقیقاً هغه څه دي چې هوښیار سیاستوال لکه باجپای د ګڼو خلکو له مشورو سره سره د منار پاکستان لیدو ته ورغی.
دوراني: یوه ورځ حمیدګل وویل چې هند زموږ لپاره ډېر ستر دی او موږ باید ټولې هڅې په کار واچوو چې ویې وېشو. موږ ټولو وخندل، خو هغه وخت هېچا ونه ویل چې دا کار به ونه شي او یوه کس وویل چې که دا کار وشي، نو ښه به وي. په غیر رسمي ډول خلک د مونسټر د تجزیې په اړه هم خبرې کوي.
دولت: همدارنګه یو شمېر کسان شته چې اکهنډ بهارت غواړي.
دوراني: زه د اکهنډ بهارت په اړه بحث سره جوړ نه یم. موږ دومره لرې یو، خو بیا هم حل لار نه لرو.
دولت: لکه سېنها چې وایي دا ټول اکاډمیک بحثونه دي.
دوراني: موږ لومړی باید د یوه کنفدرېشن او بیا وروسته د متحد هند په اړه بحث وکړو. موږ ولې پر شا لاړ شو؟ په دې اړه باید حد اقل بحث وشي. اروپایانو دا کار د اوږدې مودې لپاره وکړ. د چرچیل د نظریې تر وړاندې کولو وروسته د اروپایي ټولنې جوړېدو نږدې نیمه پېړۍ وخت ونیو.
سېنها: اروپا پر یوې ټولنې بدله شوه خو اوس بېرته د بېلېدو خوا ته روانه ده.
دوراني: هو! په اروپایي ټولنه کې داسې څه نه شته چې نهایي او دایمي وي. ایا پولې بېرته نه شي کنټرول کېدای؟ د پولو بېرته کنټرول هر وخت ممکن دي.
دولت: ډاکټر منموهن سینګ د داسې ورځې هیله کړې وه چې سهارنی په امرتسر، غرمنی په لاهور او ماښامنی په کابل کې وکړو. ایا دا یو خوب و؟
دوراني: دا هغه وخت شوني ده چې په دې اړه بحثونه وشي.
دولت: که داسې وشي، زموږ لومړي وزیر ته به تر ټولو اسانه لار دا وي چې د پاکستان لومړي وزیر ته ټلیفون وکړي او د غرمې ډوډۍ لپاره یې د حیدراباد ماڼۍ ته راوبولي. له لاهور څخه ډیلي ته یوازې ۳۵ دقیقې مزل دی.
دوراني: بالکل موږ هم کولای شو چې لاړ او راشو. کله چې هغوی د غرمې ډوډۍ لپاره پر یوه سترخوان سره راټولېږي، موږ پوهېږو چې یو شمېر کسان به یو څه ...
دولت: ولې نه ښاغلیه ولې نه.


**۹**

### اساسي موضوع

سېنها: په پای کې د موضوع سر بیا هم کشمیر ته رسېږي.
دولت: له خبرو ورهاخوا، د کشمیر په تړاو ګڼ حقایق شته. کشمیریان دا مني چې کشمیر چېرته نه ځي، هند به د دې اجازه ورنه کړي او له دې زیات پاکستان څه نه شي کولای. پاکستان یو ښه ملګری او یو ښه بدیل دی. د یرغل، هجوم او جګړې له لارو هڅې شوې دي، خو پاکستان د کشمیر په داعیه کې نه دی بریالی شوی او بریالی به هم نه شي. خو یو څه کولو ته اړتیا ده، مثبتو اقداماتو ته. له دې پرته، که اساسي موضوعات دي او که غیر اساسي، بېرته شا ته ځو: کشمیر د شخړې یوه موضوع ده او دا یوه ستونزه ده. موږ یې د شخړې یا ستونزې په توګه نه منو، خو حقیقت دا دی چې هلته یوه موضوع شته. کیسه نه ده ختمه شوې. ګډ احساس د دې غوښتنه کوي چې موږ باید هلته د خلکو لپاره کوښښونه په کار واچوو او مخ په وړاندې لاړ شو، که څه هم دا به تدریجي هڅې وي. زه په کشمیر کې څه لرم؟ زه کشمیری نه یم او نه په چا پورې اړه لرم. خو زه د کشمیریانو لپاره خپل غږ ژوندی ساتم، ځکه چې هغوی په دې باور دي چې په ډیلي کې یې د غږ اورېدو څوک نه شته. مهمه دا ده چې دا احساسات ژوندي وساتل شي. زه چې کله په حکومت کې وم، یوازې به د کورنیو چارو وزارت منشي (کې. پدمانابیهای) له کشمیریانو سره خواخوږي څرګندوله. له دې پرته نور څوک نه وو. زه له خپلو هندي ملګرو سره موافق نه وم. موږ باید له دې اساسي موضوع سره صادقانه او بې ریا چلند وکړو. **دوام لري...**

# سمنګان

حشمت الله نوري



سمنګان د بلخ او بغلان ولایتونو تر منځ پروت دی. دغه ولایت د هېواد په شمالي سیمه کې موقعیت لري او له تاجکستان او ازبکستان سره ګډه پوله لري. د دې ولایت سوېل لور ته د هندوکش د چنغور غاښې او د ایبک په برخه کې هوارې زراعتي ځمکې او شمال لور ته د آبدان میر علم شګلنې دښتې او د آمو سیند شاوخوا ساحه پرته ده.
دا ولایت د شفتالو، پستې، آلو، زردالو او بادامو ډېر باغونه لري. د دغه ولایت اوسېدونکي د غالیو او لاسي صنایعو په ګنډلو کې ډېر مهارت لري.
د دغه ولایت مرکز ایبک ښار دی. د سمنګان هوا ګرمه او وچه ده. په اوړي کې د تودوخې لوړه درجه ۲۵ او ۳۰ درجې سانتي ګرېد وي او په ژمي کې ‎-۵ او ‎-۱۰ ته راښکته کېږي. د کلنې اورښت اندازه یې د ۳۰۰ او ۴۰۰ ملي مترو په شاوخوا کې اټکل شوې ده.
د وروستیو شمېرو له مخې، د دې ولایت نفوس څه باندې څلور سوه زره تنه اټکل شوی دی او مساحت یې ۱۶۲۰۰ کیلومتره مربع دی.
په دغه ولایت کې ازبک، پښتانه، تاجکان، ترکمن، ایماق، عرب او ځینې نور قومونه ژوند کوي. د دغه ولایت په دښتو او غونډیو کې د کوچیانو پسرلنۍ او د منې مېنې هم شته.
دا ولایت یو روښانه او لرغونی تاریخ لري. حضرت سلطان، د بودیزم په سبک لویې سوړې او غارونه، د سرخرنګ خټینې مجسمې او تخت رستم د دې ولایت مهم تاریخي ځایونه دي.
د موندنو له مخې، ډېرې سوړې او مغارې موندل شوې دي او دا ثابتوي چې د سمنګان نوم هم ازبکي او تاریخي ریښه لري، ځکه چې په ازبکي کې (سومونګ ایان) دی چې مانا یې د سوړو اوسېدونکو ده.
اداري واحدونه
سمنګان د ولایت د مرکز ایبک ښار په ګډون شپږ ادراي واحدونه ایبک ښار، روی دو اب، حضرت سلطان، فیروزنخجیر، دره صوف بالا او دره صوف پاین ولسوالۍ لري.
اقتصاد او سوداګري
په سمنګان کې اقتصاد د مالدارۍ او کرنې تر څنګ تر ډېره په دغه ولایت کې د شته ډېرو سکرو پر کانونو ولاړ دی.
د دغه ولایت په دره صوف بالا، دره صوف پاین او روی دو اب ولسوالیو کې د ډېرو سکرو د شته کانونو د استخراج له امله د دغه ولایت ډېری اوسېدونکو ته د کار زمینه ښه برابره شوې ده. د دغه ولایت اوسېدونکي د غالیو او لاسي صنایعو له لارې هم د خپلو اقتصادي ستونزو د حل لټه کوي، چې په دغه هنر کې ښه نوم هم لري. د دې تر څنګ، په دغه ولایت کې باغداري عموماً ډېره ده، چې له لارې یې خلک د وچو او تازه میوو پر سوداګرۍ هم اخته دي. د دې ولایت خلک پر مالدارۍ هم بوخت دي او له دې حیواني محصولاتو څخه ډېر ښه عاید لاسته راوړي.
سیندونه او بندونه
د تاشقرغان- سمنګان سیند د دغه ولایت د کرنیزو اوبو ستره سرچینه ده؛ خو تر څنګ یې اب کلی، مغل او قچن دره په نامه د کرنیزو اوبو درې ستر بندونه لري، چې په پوره توګه بیارغونې ته اړتیا لري.
اب کلی د اوبو بند د روی دو اب او حضرت سلطان ولسوالیو تر منځ موقعیت لري، چې تر کار لاندې دی. همدا راز مغل د اوبو بند په فیروز نخچیر ولسوالۍ کې دی، چې که ورغول شي؛ نو د همدې ولسوالۍ د کرنیزو اوبو ستونزه په پوره توګه حل کېدای شي.
د قچن درې د اوبو بند د خرم وسارباغ ولسوالۍ او ایبک ښار تر منځ پروت دی، چې په بیارغونه به یې د همدې سیمو د کرنیزو اوبو ستونزه حل شي.
کرنه
سمنګان که څه هم د کرنیزو اوبو د کمښت له امله یې کرنیزې چارې ټکنۍ دي؛ خو د پراخو دښتو او خاورینو غونډیو لرونکی ولایت دی، چې عموماً یې خلک باغداري ډېره کوي.
الوبخارا، الو، چارمغز، زردالو او زیره یې مهمې میوې دي. غنم، وریجې، وربشې او جوار پکې ښه حاصل ورکوي. د دې ولایت هندوانې ځانګړې خوند لري او د بزکشۍ آسونه په فني دود پکې روزل کېږي.
د تاشقرغان- سمنګان سیند یې د اوبو ستره منبع ده. د دغه ولایت د کرنې ریاست د معلوماتو له مخې، سمنګان ۲۲۲۰۰۰ هکتاره آبي او ۷۳۰۰۰ هېکاره للمه ځمکه لري. د دې ولایت ۶۸۸۵۰۰ جریبه ځمکه د چنار، پنجه چنار، توت، زردالو، الو، الوبخارا او شفتالو ونو نیولې ده.
کلتور
په دغه ولایت کې هم د هېواد د نورو ولایتونو په څېر فرهنګي او کلتوري فعالیتونه شته. په دغه ولایت کې د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست تر څنګ، انجمن شعرا و نویسنده ګان، انجمن خطاطان او نقاشان او انجمن سینما و تیاتر هم ازاد فرهنګي، کلتوري او هنري فعالیتونه کوي.
د ملي راډیو- ټلوېزیون تر څنګ پکې د رستم په نامه خصوصي ټلوېزیون فعالیت د پیلېدو په درشل کې دی. همدا راز د شهروند، رستم او صدای حقیقت په نامه خصوصي راډیوګانې هم فعالیت کوي او د سحر په نامه خصوصي راډیو به په نږدې موده کې خپل فعالیت پیل کړي.
په سمنګان کې که څه هم ورځپاڼه نه چاپېږي، خو د ایبک او تخت رستم په نامه اونیزې پکې خپرېږي. همدا راز په دغه ولایت کې د جریده سمنګان په نامه د اطلاعاتو او کلتور میاشتنۍ خپرونه، د پیام سمنګان په نامه خپرونه او د حکومت و مردم په نامه مجله د ولایت مقام لخوا د ولایتي شورا لخوا د پیام په نامه مجله خپرونې کوي. د دې تر څنګ، د سهراب په نامه ازاده میاشتنۍ خپرونه هم په دغه ولایت کې خپرېږي.
په دغه ولایت کې هم وخت ناوخت د فرهنګیانو لخوا ادبي او کلتوري میاشتنۍ ناستې تر سره کېږي.
پوهنه
د سمنګان په مرکز او شپږو ولسوالیو کې د دیني مدرسو او خصوصي ښوونځیو په ګډون، ۲۹۹ تعلیمي اداري فعالې دي. په دغو ښوونیزو ادارو کې ۱۱۰ زره زده کوونکي پر زده کړو بوخت دي، چې ۳۵ سلنه یې نجونې دي. په یادو تعلیمي ادارو کې ۲۴۳۰ ښوونکي تدریس کوي.
د دغه ولایت په هره ولسوالۍ کې یوه دیني مدرسه هم فعالیت کوي، چې سلګونه ځوانان پکې پر دیني زده کړو بوخت دي.
په دغه ولایت کې یو دولتي پوهنتون چې درې پوهنځي پکې فعال دي، هم د لوړو زده کړو په برخه کې فعالیت کوي.
مشاهیر
عبدالواحد صریر، میرزا عبدالقادر بېدلچه، خادم خرمي، ابو یعقوب سمنګاني، ابو جعفر سمنګاني، عبدالخالق وفایي خرمي، میرزا نیازی، میرزا حسین خان خرمي، عبدالغفور رمزي، حفیظ الله قطره، دشتي سمنګاني، عبدالهادي هادي او میرزا عصمت الله شرقي د دغه ولایت نوموتي کسان دي.
لوبې
په دغه ولایت کې لا هم بزکشي له ټولو ډېره کېدونکې او خوښوونکې لوبه ده. د دې تر څنګ په تېرو لسو کلونو کې پکې نوې لوبې هم د پرمختګ په حال کې دي.
په دې ولایت کې کرکټ، فوټبال، والیبال، وزن پورته کول، تکواندو، کانګو، کاراته او فوټسال ډېر لوبغاړي لري.

همیانی

## څنګه وېرې ته ماتې ورکولای شو؟

ژباړه: حمیدالله حمیدي

ډېری کسان لویې هیلې او غوره نظریې لري، خو ولې هغه کسان چې غواړي خپلې هیلې پر حقیقت بدلې کړي او د بریا لپاره په پوره توګه استقامت او مبارزه کوي، تر ډېره حده کم دي؟

**وېره**

وېره کولای شي د پرمختګ او بریا مخه ونیسي، وېره کولای شي د رښتینې بریا د لاسته راتلو مانع شي. وېره کولای شي د یوه انسان لپاره تر ټولو لوی دښمن و اوسي. البته دا هر څه هغه وخت پېښېږي چې تاسو یې د پېښېدو اجازه ورکړې.

ناپلیون هېل په خپل کتاب «فکر وکړئ او شتمن شئ» کې یو ارزښتمن کار کړی دی. هغه په دې کتاب کې د خلکو د تسلیمېدو تر ټولو اړین لامل په ګوته کړی او د خپل کتاب لوی څپرکي یې همدې موضوع ته ځانګړي کړي دي.

د وېرې پېژندنه او تشخیص یو قدرت دی، خو وېره څه ده او ولې د خلکو په تسلیمېدو کې مهم رول لوبوي؟ د پوهې په ډېرو څانګو او کتابونو کې د شته تعریفونو پر اساس، وېره یو سټرېس ښښونکی او مضطرب کوونکی حس دی چې د ځینو عواملو لکه خطر، درد او پېښېدونکو ناراحتیو له لارې د انسان په وجود کې رامنځ ته کېږي، چې دغه ګواښونه ځیني وخت رښتیني دي او ځیني وخت خیالي. اکثره ګواښونه او وېرې یوازې د انسان په ذهن او تصوراتو کې موجود وي، خو بیا هم هماغه خپلې پیاوړې منفي اغېزې له ځان سره لري. هر څومره چې زموږ په دننه کې د وېرې ریښې زیاتې وي، هماغومره مو د افکارو کنټرول په زیاته اندازه په لاس کې اخلي او منفي لوري ته یې هڅوي. تصور وکړئ چې که چېرې زموږ په وجود کې د بریالیتوب ریښې د وېرې له ریښو پیاوړې وي، څه به پېښ شي؟

د هېل څېړنو ښودلې ده چې خلک کولای شي غوره کارونه وکړي او خپلو ټولو غوښتنو ته ورسېږي، په دې شرط چې د وېرې اړوند خنډونه له منځه یوسي. یا په بله وینا، که اجازه ورکړو چې وېره زموږ د وجود کنټرول په لاس کې واخلي، کولای شي چې له موږه متحرک مړي جوړ کړي.

«شارون» مشهور لیکوال او فیلسوف پر دې باور دی چې وېره زموږ ټولو په وجود کې شته او کولای شي چې موږ معلول او بې‌وسه کړي. نوموړی وایي: «استقامت او مبارزه په دې مانا دي چې پر دې پوه شي هغه څه چې کوې یې، سم دي او خپلې لارې ته دوام ورکړې. استقامت او مبارزه له غوښتنو پوهاوی او د هغوی د لاسته راوړلو لپاره عزم او ارادې ته وایي.» دا چې نقشه په لاس کې ولرې، هېڅ درد پرې نه دوا کېږي، مګر دا چې پوه شې چې چېرته یې او غواړې چې چېرته لاړ شې. استقامت او مبارزه در سره مرسته کوي چې خپل مسیر و ارزوې او که چېرې د خپلې موخې د لاسته راوړلو له مسیره وتلې یاست، بېرته ور وګرځئ.

شارون په پوره باور وایي: «موږ ټول ځینې وخت له مسیره وځو. زه چې کله له مسیره خارجېږم، خپل شوق او لېوالتیا ته مراجعه کوم. همدغه شوق او علاقه زما د هیلو او موخو د لاسته راوړلو له لارې پیل او د لویوالي نښه ده. لېوالتیا او علاقه کولای شي چې له احساساتو منشا واخلي. نوموړی وایي: «هره شپه له ویده کېدو مخکې زما پلار رانه پوښتنه کوله چې نن دې په خپل انساني ژوند کې بدلون رامنځ ته کړی دی؟ او اوس هم هره شپه له ویده کېدو مخکې له خپل ځانه همدغه پوښتنه کوم.»

د دغې پوښتنې تمرین د شونو او ناشونو په اړه د شارون نظر ته پراخوالی ورکړی دی. د هغه په نظر، موږ اکثراً دې ته په تمه یو چې د خپلو «ولې» پوښتنو لپاره ځوابونه پیدا کړو، په داسې حال کې چې له ځانه باید وپوښتو چې ولې؟ او یوازې له همدې لارې کولای شو چې په بریالیتوب، باور او اقتدار سره د ناپېژندل شویو پر لور ګام اوچت کړو. کله چې ټولې هغه وېرې چې ناپلیون هېل په خپلو کتابونو کې ورته اشاره کړې ده، وڅېړو، پوهېږو چې تر ټولو اړینه وېره بدلون او له نا پېژندل شویو ښکارندو څخه وېره درلودل دي. هر څومره چې زموږ پوهه او درک لوړېږي، هماغومره د ناپېژندل شویو په اړه خپله د پوهېدو وړتیا لوړوو او له بل هر وخت ډېر پر دغې وېرې برلاسي کېږو.

هېل په خپلو درسونو کې څرګندوي چې شپږ بنسټیز لاملونه دي چې موږ د خپلو لویو هیلو او غوښتنو له لاسته راوړو شاته پرېږدي.

**له فقر نه وېره**


«له فقر څخه وېره یو رواني وضعیت دی، بل څه نه دي! دغه وېره د انسان د استدلال قوه له منځه وړي، د انسان نوښتګر تصور او ذهنیت تخریبوي، پر ځان باور او اتکا له منځه وړي، علاقې او لېوالتیا له کمښت سره مخ کوي، د نوښت او خلاقیت ریښې باسي، په موخو کې شکمن توب او دوه زړیتوب رامنځ ته کوي، پلان او پروګرام راتلونکو ورځو ته غځوي او د ځان کنټرولول ناشونی کوي.

که مو اجازه ورکړه چې دغه وېره پر تاسو برلاسې شي، له شک پرته چې له پوره ځواکه برخمنه ده. کله چې پر دې پوه شوی چې دغه وېره یوازې یو رواني حالت دی، کولای شی د تغییر او بدلون پرېکړه یې وکړی. له فقر نه وېره، د بریا لپاره ټولې اړتیاوې او ځانګړتیاوې له منځه وړي. کولای شی چې له استدلال، علاقې او لېوالتیا، تصور، پر ځان له اتکا، نوښت او ابتکار او پر ځان باور پرته بریالي شی؟ بریالي کېدل، پر ځان باور او لاس پکار کېدو ته اړتیا لري.

هر څومره چې پر دې وېره ډېر ټینګار وکړی او ورته ته تسلیم شی، هماغومره اقتصادي ستونزې هم سر را پورته کوي. هېل په دې باور دی چې هر هغه څه چې ډېر تمرکز او ټینګار پرې کوو، هماغومره یې ځان خوا ته را جذبوو. هغه کسان چې اقتصادي امن لري، په اصل کې یې ځان هماغسې فرض کړی دی او هغوی چې تل په یوې مړی ډوډۍ پسې منډې وهي، هماغه یې د خپل سرنوشت په توګه منلې ده.

هغه مهال چې له فقر نه وېره مو د یو رواني حالت په توګه ومنله او د جذب پر قانون هم پوه شوی، کولای شی چې په اسانۍ خپلې فکري کرښې ته بدلون ورکړی، چې پر دغې وېرې برلاسي شی. د دې پر ځای چې خپل ځان له مالي پلوه یو بایلونکی کس وبولی، فکر وکړئ چې د غوره مالي امنیت درلودونکي یاست. د لاس پکار کېدو او په خپلو افکارو کې د بریا د ریښو په ځغلولو د خپلو وېرو له منځه وړونکي او فاتح اوسئ.

## سوداګرۍ خونه: په شېرخان بندر کې د نا امنیو له امله ۱۴۵ شرکتونه تړل شوي



په کندوز کې د شېرخان بندر سوداګر له نا امنیو شکایت کوي او زیاتوي چې د روان بد وضعیت له امله تر اوسه لسګونه شرکتونه تړل شوي دي.

د شېرخان بندر یو سوداګر ضیاءالحق وایي چې د نا امنیو له امله یې په دغه بندر کې کاروبار درولی دی. هغه زیاتوي: «په بندر کې حکومتي کسان له موږ نه غیر قانوني پیسې اخلي، په لار کې یې رانه طالبان او پولیس اخلي، امنیت بېخي تامین نه دی؛ ځکه مې په شېرخان بندر کې خپل شرکت تړلی دی.»

دغه راز یو بل سوداګر جلال الدین هم رسنیو ته ویلي چې د کندوز- شېرخان بندر پر لویه لار د نا امنۍ ترڅنګ غله هم پیدا شوي دي. هغه زیاته کړې: «مخکې په دې لاره کې پوستې پرتې وې، خو اوس له دوو کلونو ډېر وخت کېږي چې دغه پوستې نشته، نو غله هم په لار کې پیدا شوي، کله له سوداګرو پیسې او مالونه اخلي او کله هم سوداګر اختطاف کوي.»

نوموړی وایي، که په شیرخان بندر او لار کې یې امنیت تامین شي، یوځل بیا به سوداګري په دغه بندر کې رونق پیدا کړي. په ورته وخت کې د شېرخان بندر لارې یوشمېر موټر چلوونکي هم د غیرقانوني پیسو له اخیستو شکایت کوي.

د شېرخان بندر- تورخم یوه موټر چلوونکي معراج الدین پژواک ته ویلي چې د لارې په اوږدو په ډېرو ځایونو کې غیرقانوني پیسې ورکوي. ده ویلي: «هم طالبانو ته پیسې ورکوو او هم پولیسو ته، له همدې امله د مالونو نرخونه لوړېږي چې بیا تاوان یې ټول عامو خلکو ته دی.»

بلخوا په کندوز کې د سوداګرۍ خونې ویاند مسعود وحدت وایي چې په شېرخان بندر کې په تېرو شاوخوا دوو کلونو کې نږدې ۱٤٥ شرکتونه تړل شوي دي.

دی وایي: «په کندوز کې د تاجکستان هېواد د کونسلګرۍ نه شتون، د لارې په اوږدو کې د پیسو اخیستل، د بانکونو نشتوالی او امنیتي ستونزې، د دې لامل شوې چې په شېرخان بندر کې له ۱٥۰ څخه یواځې پنځه شرکتونه پاتې شي او نور ټول وتړل شي.»

د وحدت د معلوماتو له مخې، کوم شرکتونه چې په شېرخان بندر کې تړل شوي، د هېواد په نورو بندرونو کې یې فعالیت پیل کړی دی. بل لور ته د کندوز امنیه قوماندان جنرال حق‌نواز حقیار وایي چې د لارې په اوږدو او شېرخان بندر کې دوی د سوداګرو امنیت خوندي کړی دی.

## مېلر: که طالبان تاوتریخوالی کم نه کړي، پر وړاندې به یې بریدونه ډېر کړو



په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو عمومي قوماندان سکاټ مېلر وایي چې ۲٥۰۰ شمېرې ته د خپلو سرتېرو د کمولو پر پلان یې کار پیل کړی، خو له افغان ځواکونو څخه خپل ملاتړ ته هم ادامه ورکوي.

هغه زیاته کړې، د امریکا او طالبانو د دوحې تړون له مخې، د خپلو سرتېرو پر کمولو لګیا دي او د مشرتابه د نوي اعلان له مخې، اوس تر راتلونکې میاشتې پورې د خپلو سرتېرو شمېر ۲٥۰۰ تنو ته راکموي.

جنرال مېلر وایي، تر دې مخکې دوی د سرتېرو شمېره ٤٥۰۰ ته راټیټ کړی و، خو نوموړي ووېل چې د افغان ځواکونو روزنې، مشورې او همکارۍ ته به هم ادامه ورکوي، څو د هغوی وړتیاوې زیاتې شي.

د ناټو قوماندان د یوې پوښتنې په ځواب کې ووېل، چې د تاوتریخوالي کچه ډېره لوړه شوې چې هېڅوک ته د منلو وړ نه ده، طالبان باید تاوتریخوالی کم کړي او په دې اړه په بېلا بېلو برخو کې بحثونه هم شوي، څو تاوتریخوالی کم کړای شي.

د هغه په وینا، کله چې تاوتریخوالی زیاتېږي، نو افغانان یې لوړه بیه پرې کوي؛ ځکه هڅه کېږي څو تاوتریخوالی صفر ته راټیټ شي. سکاټ مېلر وایي، د سولې لپاره یو فرصت رامنځته شوی چې باید له دې څخه استفاده وشي. د هغه په خبره، له افغانستان څخه د دوی د ځواکونو وتل په حالاتو پورې منحصر او مشروط دي او طالبان باید د دوحې د تړون ژمنې عملي کړي. جنرال مېلر زیاته کړې چې دوی د افغان ځواکونو ملاتړ ته ادامه ورکوي او هر چېرې چې اړتیا وه، له هغوی څخه به دفاع کوي. نوموړي دغه راز زیاته کړې چې په افغانستان کې لاهم د القاعده شبکې فعالیتونه شته او دوی هرڅه له نږدې څاري.

د مېلر په خبره، که طالبان تاوتریخوالی ډېروي، دوی به هم له افغان ځواکونو دفاع کوي او پر طالبانو به بریدونه ډېروي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۹۲,۲ |
| Rp. | ٤۷۹ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۰,٥ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۲۴مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۱۴مه | ٦٤٥مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | ۸ | ۱٤ | ۱۲ | ۱۲ | ۸ |
| -۷ | ۱ | ۲ | ۲ | ٤ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۳ | لمر ختل ۰٦:۵۱ | ماسپښین ۱۱:۴۹ | مازیګر ۰۲:۲۷ | ماښام ۰٤:۴۵ | ماخوستن ۰٦:۱۴

## نړۍ




د اقلیمي بدلون په اړه خبرداری؛

## ګوتریش: که نړیوال د اقلیمي بدلون لپاره تګلاره بدله نه کړي، نړۍ به له جدي ګواښ سره مخ شي

۳

## تر نسبي کړارۍ وروسته؛ په نګورنو قره باغ کې د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ بیا جګړې پیل شوې



د ازربایجان دفاعي چارواکو ویلي، له کله چې د نګورنو قره باغ په سیمه کې اوربند نافذ شوی، د دوی څلور سرتېري وژل شوي دي. د یاد هېواد دفاع وزارت په یوه اعلامیه کې په دې اړه ډېر جزیات نه دي ورکړي، خو یوازې یې ویلي چې دا وژنې د ازربایجاني ځواکونو تر کنټرول لاندې سیمو کې شوې دي.
دا په داسې حال کې ده چې د نګورنو قره باغ لانجه د روسیې په منځګړیتوب د اوس لپاره هواره شوې، چې له مخې یې لږ تر لږه درې سیمې اذربایجان ته ورپرېښودل شوې. تر دې یوه ورځ مخکې ازربایجاني او ارمنستاني چارواکو یو بل تورن کړي چې بیا یې تازه درنه جګړه پیل کړې ده. د راپورونو له مخې، نوې جګړې په هدروت سیمه کې پیل شوې دي.
ازربایجان په جګړو کې د خپلو نږدې ۲۸۰۰ سرتېرو وژنه تایید کړې، که څه هم ارمنستان د وژل شویو سرتېرو رسمي شمېر نه دی خپور کړی، خو د نګورنو قره باغ چارواکو ویلي چې د دوی څه باندې ۲۳۰۰ عسکر وژل شوي دي.
بلخوا ارمنستان بیا پر اذربایجان تور لګولی چې د نګورنو قره‌باغ د جګړې پر سر له شوي اوربند څخه یې سرغړونه کړې ده. د ارمنستان دفاع وزارت ویلي، اذربایجاني ځواکونو په هغو سیمو بریدونه کړي چې د ارمني ټبره ځواکونو له‌خوا ساتل کېږي. دغه راز په سیمه کې د روسیې سوله ساتي پوځ چې د اوربند څارنه کوي، پرته له دې چې کوم لوری ملامت کړي، له اوربنده سرغړونه یې تایید کړې ده.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر له ۷۲ میلیونو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۷۲ میلیونه او ۲۲۸ زره او ۳۱۹ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ٦۱۳ زره او ۹۳۲ کسان مړه شوي او نږدې ۵۱ میلیونه ترې ببرته رغېدلي دي.
د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ١٦ میلیونه او ۵۵۱ زره او ٦۳۴ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۳۰۵ زره او ۸۸ نور امریکایان ترې مړه شوي دي. له امریکا وروسته هند د نهه میلیونه او ۸٦۰ زره او ۸۱۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د شپږ میلیونه او ۸۸۰ زره او ۵۹۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریېم، روسیه د دوه میلیونه او ٦۵۳ زره او ۹۲۸ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۳٦۵ زره او ۳۱۹ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي. دغه راز بریتانیا، ایټالیا، ترکیه، هسپانیا او ارجنټاین په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## دانش: اقلیت‌های افغانستان حق دارند که در روند صلح اشتراک معنی‌دار داشته باشند



سرور دانش، معاون دوم ریاست جمهوی افغانستان گفته که مواد مهمی از احکام قانون اساسی این کشور در مورد حمایت از اقلیت‌ها اجرا نشده است.
آقای دانش دیروز در همایش با عنوان «کنفرانس ملی اقلیت‌های آسیب‌پذیر افغانستان و روند صلح» تأکید کرد که همهٔ اقلیت‌های این کشور حق دارند که برای تامین حقوق خود به‌ویژه در روند صلح صدا بلند کنند و نباید این صدا نفاق‌افگنی تلقی شود.
آقای دانش در این همایش که از سوی «موسسه حقوق بشر و محو خشونت» برگزار شد، گفت که دولت‌ها حق ندارند که در برابر اقلیت‌ها تبعیض اعمال کنند. به گفته او: «دولت‌ها حق ندارند که در مقابل اقلیت‌ها اعمال تبعیض کنند. تبعیض به هرمعنایی که تعریف شود، چه ایجاد محدودیت و یا هم پایه‌ریزی معیارهایی که بر اساس نژاد، رنگ، قومیت، مذهب و یا هر حالت دیگری باشد.»
معاون دوم ریاست جمهوری گفت که در کنوانسیون‌های جهانی نیز بر رعایت و تامین حقوق اقلیت‌ها تاکید شده. به گفته او، ۹۱ درصد جمعیت تمام کشورها متکی به تنوع زبانی، فرهنگی و مذهبی هستند.
آقای دانش گفت که اقلیت‌ها در افغانستان حق دارند که در روند صلح اشتراک معنی‌دار داشته باشند و برای تامین حقوق خود در این روند تلاش کنند.
از سوی هم رونالد کوبیا، نماینده ویژه اتحادیه اروپا برای افغانستان، از طریق آنلاین در این نشست تاکید کرد که حقوق اقلیت‌ها، حقوق بشر و حقوق زنان در روند صلح و افغانستان پساصلح باید تضمین شود.


## ژوند

## ژمی او د چهارمغزو ګټې



چهارمغز د اومیګا ۳ غوړو اسیدونو، د آلفا لینولنیک اسیدونو، پوتاشیم او ویټامین E درلودونکي دي، چې د زړه په ساتنه کې مهم رول لري. اومیګا ۳ د کلسترول له لوړ تراکم څخه مخنیوی کوي او د وینې فشار کموي او همدارنګه له زړه څخه ساتنه کوي. پوتاشیم د زړه له انقباض څخه مخنیوی کوي چې دا کړه د زړه په حرکاتو کې ښه والی راولي، ویټامین E د پلاکټ «له هستي پرته د وینې ګردي» په مرسته د شریانونو له بندېدو څخه مخنیوی کوي. د اومېګا ۳ غوړ اسیدونه په غوړ او په اعصابو کې د سلولونو د ملایم فعالیت په لوړوالي کې مرسته کوي، نو په دې اساس د حافظې د پیاوړي کولو، د فکر کولو په پروسه او تمرکز کې ګټور تمامیږي. چهارمغز د مثانې د ډبرې له پیدا کېدو څخه مخنیوی کوي او همدارنګه د مثانې له ډول ډول ناروغیو څخه هم ساتنه کوي. په چهارمغزو کې د ملاتونین په نامه هورمونونه شته چې د پینیل غدې په مرسته تولیدیږي او د ښه خوب په کولو کې مرسته کوي.

## موټرولا پیاوړې بېټرۍ لرونکی موبایل معرفي کوي



موټرولا کمپنۍ خپل موټو جي۹ پاور په نوم ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې کوي، چې ٦۰۰۰ ملي امپیره پیاوړې بېټرۍ لري. د موټو جي۹ پاور بېټرۍ له ۲۰ واټ چټک چارج ټکنالوژۍ څخه هم ملاتړ کوي. دغه ځیرک موبایل ٦٫۷۸ انچه ۷۲۰*۱٦۴۰ ریزلوشن لرونکې ایچ ډي پلس مخپاڼه لري او پکې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن ٦٦۲ ډوله پروسېسر کارول شوی دی. موټو جي۹ پاور ۴ ګېګابایټ رم او ٦۴ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لري چې کاروونکي د میموري کارټ له لارې دغه وړتیا ۵۱۲ ګېګابایټ ته لوړولی شي. شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري چې ٦۴ مېګاپکسله اصلي کامره، دوه مېګاپکسله ډېپټ سېنسر او دوه مېګاپکسله مکرو کامرې پکې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې یوه ١٦ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره لري. د دغه ځیرک موبایل بیه ۱۱۹۹۹ هندي



عزیزي بانک
Azizi Bank
د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه
عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنی سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له ایسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.
www.azizibank.af
1515